مرادزی د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۱٦ مه

د فساد په ضد هڅې باید له نورو ملي موخو سره وتړل شي !

یوازې اداري فساد نه دی چې د افغانستان دولتي ماشین یې شل کړی بلکې نور لاملونو هم ډېر دي چې د اداري فساد سره په ګډه یې هېواد د ناورین په لور روان کړی دی .
د اندیښنې وړده چې اداري فساد ، د کرزي له دوتره نېولې تر عدلي سکتور ، پارلمان ، وزارتونو ، ولایتونو او تر ولسوالیو پورې پراخ شوی او ټول اداري غونډال « سیستم » یې له سره تر بیخه راښکېل کړی او هغه یې له کاره غورځولی دی ، خو که د اداري فساد په ضد هڅې د مرکزي حکومت د بسیا او ټینګښت ، د جګړې د دوام ، د نیشه یې توکو د کرـ کیلې قاچاق او د مافیا د پراخ شتون د نورو لاملونو د مخنېوي له هڅو سره یوځای نشي ، په یوازې توګه د اداري فساد په ضد هڅې او شورماشور به عبث او بې پایلې وي .
په اوس وخت کې موخه دا ده چې یو غښتلي مرکزي حکومت په پښو ودریږي ، ترڅو داسې حکومت د ټولو شتو ناخوالو سره مبارزه وکړي لکه د مرکزي حکومت په وړاندې په مرکز او ولایتونو کې د ټوپکمارو او جګړمارو بې وسلې کول او مرکز ته د هغو تابع کول ، د القاعده او ترهګرو په وړاندې اغیزمنه جګړه او په سیاسي اغیزمنو لارو د وسلوالو کورني طالبانو راخپلول ، د دولتي اداري سمون او د فساد جړې ایستل ، د مافیا له منګولو د ولس ژغورون او ولس ته د ګټو او ښېګڼو رسول او داسې نور .
که څه هم هغه دولت چې په اداري فساد ککړ وي ، خپله د مرکزي غښتلي دولت د رامنځ ته کېدو په مخ کې خنډ دی ، خو د مرکزي دولت د پیاوړتیا نورو لاملونو ته لږ ارزښت ورکول هم ، د ستونځو د حل پرځای ستونځې لازیاتوي .
دا چې د هېواد په شمال کې د بلخ والي عطا محمد نور د مرکزي حکومت پر وړاندې ګواښونه کوي او هغه سیمه د نظارشورا او جمعیت د واک سیمه بولي او یا نور ټوپکمار د مرکزي حکومت لارښوونې نه مني له اداري فساد څخه ددغو پېښو زیان په وارونو زیات دی . القاعده او ترهګر هم لکه د نظارشورا او جمعیت پشان د هېواد په نورو سیمو کې مرکزي حکومت ته ستر ګواښ دی او په دولت کې دننه د بدې خورو او فاسدو دولتي چارواکو شتون هم هغه چینجیو ته ورته دي چې دولت له دننه خوري ، خوسا کوي یې او ودې ته یې نپریږدي . دغه ټول د هغه زولنو بېلا بېلې کړی دي چې د مرکزي حکومت لاس او پښې یې تړلې دي .
اوس پوښتنه دا ده چې مرکزي حکومت له دغو زولنو څنګه ځان خلاصولای شی ؟ له کومه ځایه یې پیل کړي ؟ څنګه ځان غښتلی کړی او په ریښتیانو مرکزي حکومت شي ؟
د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې د کرزي برې او د هغه د سیال عبدالله ماتې له دې کبله هم زیات ارزښت لري چې افغان ولس پخپلو رایو سره کرزی ته واک ورکړ چې نوموړی دا واک د ډانګیانو ، ټوپکمارو او جګړه مارو په مقابل کې چې تر نورو لاملونو زیات د مرکزي حکومت د جوړښت په وړاندې خنډ دي ، وکاروي . دغو ټوپکیانو ته د هیڅ یوه نوم لاندې په دولت کې ځای ورنکړل شي ، او په دې اړه تېرې اته کلنې تېروتنې تکرار نه شي چې ډېرې بدې پایلې به ولري .
د اداري فساد د جړړو په ایستلو کې چې د مرکزي پیاوړي حکومت په مخ کې یو بل لوی خنډ دی ، کرزي ته خدای اسانه او ارزانه وسیله تر ګوتو کړه . د ملګرو ملتو ۱۹۲ غړو هېوادو په عمومي غونډه کې د رایو په اتفاق سره خپله ۱۹۲ پریکړه وکړه او په هغې کې یې د افغانستان ټولټاکنې روغې او د ډاډوړ وګڼلې . په دې پریکړه کې د افغانستان ولسمشر کرزي څخه د قانون د حاکمیت د پیاوړي کولو ، د دیموکراسۍ د بهیر ، د اداري فساد په ضد د مبارزې او د عدلي سکتور د سمون په اړه د وړ ګامونو د پورته کولوغوښتنه شوې . په دې توګه کرزی او د هغه راتلونکی کاري ټیم په کور دننه له هغه ملاتړ څخه چې د ټاکنو له لارې یې ترګوتو کړی وو سربېره ، نن نړیوال پیاوړی ملاتړ هم لري چې ددغو دواړو ملاتړونو څخه په سمې ګټې اخیستنې سره د مرکزي دولت مخې ته د پرتو خنډونو په لرې کولو کې غوڅ ګام اخیستلای شي .
د اداري فساد په له منځه وړلو کې ، خپله ولس د مرکزي حکومت ملاتړی دی . د هېواد هره تره ، باندې ، کوڅه او دېره ناري وهي چې د ولس له برخلیک څخه ددغو جنایتکارو او خاینینو لاسونه لنډ شي .
بلخوا د نړۍ پیاوړي دولتونه که څه هم بېلې موخې لري ، پرلپسې له کرزي غواړي چې له دولته ټوپکمار ، جګړمار ، غله ، ډاکوان او په اداري فساد ککړ چارواکي وشړي . « دامریکا دبهرنیو چارو وزیری میرمن هلري کلن او جرمنی وویل چې که چیری دافغانستان جمهور رییس حامد کرزی غواړی چې پراخه نړیوال ملاتړ ترلاسه کړی نو باید پخپل هیواد کې اصلاحات راولی او دفساد جړړی ختمې کړي. »

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جرمني د دفاع وزير ښاغلي گوتنبرگ زياته کړه چې ما خپلې انديښنې په ښکاره له افغان حکومت سره شريکې کړې له ولسمشر کرزي سره مې داداري فساد، له جرمونو سره دمبارزې او ښه حکومت کولو مسايل ياد کړل. »
« دهالنډ حکومت بيا خبرداری وکړ که چيرته د حامد کرزي نوی حکومت داداري فساد پرضد جدي گامونه وانخلي هالنډ به هغه کړې ژمنه چې په دوه زره لسم کال کې افغانستان ته اوه ديرش ميليونه ډالر ورکوي، ورنه کړي. دهالنډ دهمکارۍ او پراخيتا د وزير برت کوندرس وياندې فرانس پريس آژانس ته وويل ، وزير دهالنډ پارلمان ته وويل ، دحامد کرزي حکومت بايد جدي گامونه داداري فساد پرضد واخلي څو د دې وړ شي چې مرسته ورسره وشي. دهالنډ دغه مرستې چې دپارلمان له لورې کيدې په افغانستان کې دښوونکو او روغتيايي مامورينو د معاشونو او د بريښنا، اوبو رسولو او وړو پورونو پروژو ته ځانگړې شوې وې . »
کرزی او ټيم ته يې نه ښايی د جگړمارو او فاسدو چارواکو پر سر نړيواله ټولنه له ځانه خپه کړي او نړيوالې مرستې د ډاکوانو پر سر په افغانانو ودروي .
اوس دا د کرزي او د هغه د راتلونکي کاري ټيم ملي دنده ده چې ، يوخوا د ټوپکمارو او ډاکوانو او جنگي مجرمينو او بلخوا د فاسدو ، بډې خورو دولتي چارواکو په وړاندې د رامنځته شوې په کور دننه او نړيوالې ښې فضا څخه گټه پورته کړي . په اوبو کې لوټه ايښودل او ځان پرې د لنډمهال لپاره تېرول او ملي سترو گټو ته د شاړولو لار پرېږدي . د غښتلي مرکزي دولت ستنې پښې ودروي .

پای

اخځونه :
بېلا بېلې بريښپاڼې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ